د افغانستان اسلامي امارت
د کډوالو او راستنېدونکو چارو وزارت
مالی او اداري معینیت
د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست
د اطلاعاتو آمریت

اونیز راستنیدنه
عودت هفته نامه

(٦٣)گڼه چنگاښ ۱۴۰۴: شماره (٦٣) سرطان ۱۴۰۴:صفحه اول:لومړی مخ



## د مهاجرینو وزیر یوه ناسته کې د بشري مرستو او استوګنې په برخه کې د یوناما له مرستیال او د افغانستان لپاره د کډوالو په برخه کې د ملګرو ملتونو د عالي کمېشنرۍ له استازي عرفات جمال او په افغانستان کې د کډوالو نړیوال سازمان له مشرې آغلې میهیونګ پارک سره وکتل

دغه ناسته چې له ایران څخه د راستنېدونکو افغانانو د پیل شوې لړۍ په هکله ترسره شوه، د یوناما مرستیال ښاغلي اندریکا راتوټه وویل، چې روان زیږدیز کال له پاکستان او ایران څخه تر دې دمه له یو میلیون څخه ډېر افغانان راستانه شوي او دا شمېره د لوړېدو په حال کې ده.

د نوموړي په وینا چې پاکستان د افغانانو په جبري ایستنه کې کمښت راوستلی، خو له ایران څخه د افغانانو د جبري ایستلو لړۍ خورا لوړې کچې ته رسېدلې ده. ښاغلي راتوټه زیاته کړه، چې یوناما د مالي سرچینو د جلب هڅې پیل کړې او همدارنګه په اسلام قلعه کې د راستنېدونکو د ستونزو حل په موخه د ظرفیت لوړلو ته کار پیل شوی، خو د اسلامي امارت له ادارو سره په همغږۍ او کډ کار، د راستنېدونکو افغانانو لاس نیول وکړي او خدمات ورته وړاندې شي.

اندریکا راتوټه یادونه وکړه، چې یوناما غواړي ایران ته قناعت ورکړي چې د افغانانو د جبري ایستلو جبري لړۍ ودروي او د یوه پلان پر بنسټ افغانان په داوطلب ډول خپل هېواد ته راستانه کړي.

هغه په افغانستان کې د راستنېدونکو د مېشت کېدو او مهاجرت پر دایمي حلالرو په ټینګار سره د ګډې تخنیکي کمېټې د جوړېدو وړاندیز وکړ او له نړیوالو ادارو سره یې د اسلامي امارت د همکاریو له امله مننه وکړه.

د ناستې پر دوام د افغانستان لپاره د کډوالو په برخه کې د ملګرو ملتونو د عالي کمېشنرۍ استازي عرفات جمال وویل، چې په اسلام قلعه کې حالت له



نږدې ارزول شوی او یو شمېر غیري خوراکي توکي سمیې ته لیږل شوي دي. ښاغلي عرفات زیاته کړه، چې دوی د ملګرو ملتونو له رهبرۍ څخه د افغان راستنېدونکو ستونزو حل په موخه د لاډېرو مرستو غوښتنه کړې او تمه ده چې ژر ورته لاس رسي پیدا کړي.

هغه دغه راز وویل، چې په نږدې راتلونکې کې به د کډوالو په برخه کې د ملګرو ملتونو عالي کمېشنره کابل ته سفر وکړي.

په افغانستان کې د کډوالو نړیوال سازمان مشرې آغلې میهیونګ پارک له ایران څخه د راستنېدونکو افغانانو د شمېر په ډېردو سره د خپلو مالي سرچینو د لوړولو یادونه وکړه او زیاته یې کړه، چې د کډوالو نړیوال سازمان د نقدي مرستو کچه لوړه کړې وه، خو د جبري ایستلو د لړۍ له پراخېدو سره پر نقدو مرستو اغېز شوی.

نوموړې د یو لړ ستونزو حل په موخه خپل وړاندېزونه په ناسته کې شریک کړل.

محترم مولوي عبدالکبیر د یوناما او ملګرو ملتونو مسوولینو ته ښه راغلاست وویل او په بېلابېلو برخو کې یې له افغانانو سره د ملګرو ملتونو د ادارو له مرستو او همکاریو مننه وکړه.

محترم وزیر زیاته کړه، چې اسلامي امارت د اړتیا وړ توکي او وسایل اسلام قلعه ته لیږلي او احتیاطي تخنیکي ټیمونه هم د رسېدو په حال کې دي.

د محترم مولوي عبدالکبیر په وینا، څرنګه چې اسلامي امارت له پاکستان څخه د راستنېدونکو لپاره اړتیا وړ اسانتیاوې چمتو کړې

## معین مسلکی وزارت امور مهاجرین با معاون مقام ولایت بلخ دیدار کرد

الحاج مولوی عبدالرحمن راشد معین مسلکی وزارت امور مهاجرین و عودت کننده گان و رئیس کمیته اسکان موقت، با هیأت همراهش با مولوی نورالهادی ابو ادریس، معاون مقام ولایت بلخ، دیدار کرد.

در این دیدار ، مولوی اسدالله وفا، رئیس مهاجرین و عودت کنندگان ولایت بلخ نیز حضور داشت.

در آغاز ، مولوی طلحه، عضو کمیسیون اسکان موقت، ضمن ارائه معلومات از وضعیت مهاجرین، گفت: در هفته‌های اخیر روند بازگشت داوطلبانه مهاجرین افغان از کشورهای همسایه به‌گونهٔ چشم‌گیری افزایش یافته است و اکثر این مهاجرین به‌صورت داوطلبانه، اما در شرایط سخت اقتصادی و اجتماعی به کشور برگشته‌اند که متأسفانه شمار قابل توجهی از این افراد، بدون سرپرست، فاقد خانه و از داشتن اقارب نزدیک در افغانستان محروم‌اند.

وی افزود: کمیسیون اسکان موقت به منظور رسیدگی عاجل به وضعیت این قشر آسیب پذیر، برنامه هایی را روی دست گرفته است که شامل ایجاد مراکز اسکان موقت، فراهم سازی امکانات اولیه زندگی مانند غذا، سرپناه، خدمات صحی و آموزش مهاجر می‌باشد.

معاون مقام ولایت بلخ ضمن خوش آمدید به هیئت، اظهار داشت که رهبری ولایت آمادگی کامل برای پذیرش مهاجرین را دارد و اقدامات لازم در این زمینه صورت گرفته است. وی تأکید کرد: کمپ موقت برای مهاجرین تازه وارد در نظر گرفته شده و کار ساخت شهرک مهاجرین با همکاری ادارات مربوطه آغاز شده است.

مولوی نورالهادی ابو ادریس همچنین از پیشرفت پروژه های زیر بنایی شهرک مهاجرین خبر داده وافزود: که مراکز بهداشتی و آموزشی آن در آینده نزدیک به بهره برداری سپرده خواهد شد.

وی اطمینان داد که اسکان موقت با تمامی تجهیزات و امکانات مورد نیاز برای مهاجرین تازه برگشته فراهم خواهد شد.

## برنامه یکروزه تشریح رهنمود فورم گزارش دهی، در وزارت امور مهاجرین، برگزارشد

برنامه یکروزه تشریح رهنمود تکمیل فورم گزارش دهی، از جانب ریاست پالیسی و پلان وزارت امور مهاجرین و عودت کننده گان، در تالار کنفرانس های این وزارت برگزار شد.

در این برنامه که تعداد ۵۰ تن از کارمندان ریاست های مرکزی این وزارت حضور داشتند، شیخ کلیم الرحمن فانی معین مالی واداری وزارت صحبت نموده بیان داشت: هر مشکلی راه حل دارد و در دین مبارک اسلام رهنمود های لازم را در عرصه های مختلف بیان شده است.

محترم فانی گفت: گزارش دهی بخاطر شفافیت است و باید آن را به طریقه درست و صادقانه انجام داد و اگر در کاری گزارش وجود نداشته باشد شفافیت هم نخواهد بود و با ارایه گزارش میتوان یک پلان خوب ترتیب داد.

سپس مولوی محمود الحق احدی، رییس پالیسی و پلان وزارت امور مهاجرین نیز صحبت نموده افزود: برنامه امروزی بخاطر ترتیب پلان و ارایه گزارش دهی است و هدف آن انجام وظیفه و مدیریت به طریقه بهتر و ارایه گزارش خوبتر از کارکرد است و کارکرد را میتوان با ترتیب پلان خوب گزارش داد.

رییس پلان وزارت با برگزاری چنین برنامه ها بر حل مشکلات در ترتیب پلان و ارایه گزارش دهی در آینده ابراز امیداوار ی نمود.

برای شاملین برنامه،پرزنتیشن تهیه شده تشریح رهنمود فورم گزارش دهی از جانب آمریت پلان ارایه شد.

## د کډوالو او راستنېدونکو چارو وزارت څه باندې ٦٠ میلیونو افغانیو په ارزښت یو تړون لاسلیک کړ

د کډوالو او راستنېدونکو چارو وزارت او د وطن ټولنیزو او تخنیکي خدمتونو موسسې ترمنځ د ٦٧ میلیونو، یو سل او دوه دېرش زره او ۱۵ افغانیو په ارزښت د همکارۍ یو تړون لاسلیک کړ.

د دغه تړون له مخې به یاده موسسه دا پیسې د کابل، کاپیسا، پنجشېر، پروان، میدان وردک، لوګر، پکتیا، پکتیکا، خوست، غزني، بامیان، دایکندي، هرات، فراه، بادغیس او غور ولایتونو کې د خوراکي توکو د وېش او د اړتیاوو د ارزونې په برخه کې په مصرف ورسوي. د دې پروژې په پلي کېدو سره به ۲۱۰،۱۴۰ راستنېدونکي، کډوال او اړمن کسان به یې له ګټې برخمن شي.

## د بلخ ولایت کې د یوه ښوونځي د جوړولو کار پیل شو

په بلخ ولایت کې د یوه ښوونځي د جوړولو کار د یاد ولایت د سیمه ییزو چارواکو په شتون کې، پیل شو. یاد ښوونځی به د نهر شاهی ولسوالۍ په ٦٧٥ متره مربع ځمکه کې جوړ شي، چې ۱۳ درسي خونې، تشنابونه، احاطه دېوال او شنه ساحه به ولري. دا پروژه به د ملګرو ملتونو د کډوالو چارو عالي کمیشنرۍ په مالي ملاتړ، په میاشتو کې د ۲۰۰ زره امریکایي ډالرو په لګښت بشپړه شي.

## پیرامون وضعیت مهاجرین افغان در کشور پاکستان، با رییسه کمیشنری عالی سازمان ملل متحد، مقیم آنکشور دیدار صورت گرفت

سرپرست سفارت امارت اسلامی افغانستان در همراهی با آصف خان خدران، اتشه امور مهاجرین افغان مقیم شهر اسلام آباد کشور پاکستان، با خانم فیلیپا کیندلر، رییسه کمیشنری عالی سازمان ملل متحد در امور پناهنده گان، مقیم در آنکشور، دیدار نمودند. در دیدار یاد شده در مورد وضعیت مهاجرین افغان در پاکستان بین طرفین بحث و تبادل نظر صورت گرفت. سردار احمد شکیب سرپرست سفارت بر تقویت و تداوم همکاری های دوجانبه میان سفران و کمیشنری تاکید ورزیده و به چالش های مهم مهاجرین از جمله تمدید مهلت اعتبار کارت های مهاجرت، مشکلات برگشت کننده گان در مراکز عودت، بسته شدن دفاتر اصلاح کارت مهاجرت، چگونگی اجرا کمک های بشردوستانه به مهاجرین، ایجاد دیسک هماهنگی مشترک میان سفارت و کمیشنری و افزایش کمک های نقدی اشاره نموده خواستار رسیده گی سریع و موثر به چالش های یاد شده از جانب کمیشنری عالی ملل متحد در امور پناهنده گان شد. خانم فلیپا کیندلر، از همکاری و تلاش های دوامدار سفارت در حمایت از مهاجرین افغان ستایش نموده و تاکید نمود که کمیشنری ملل متحد در امور پناهنده گان به حل این مشکلات متعهد است. وی افزود: گفتگو های مفصل با مقامات وزارت های خارجه و سفران پاکستان در مورد تمدید اعتبار کارت های هویت صورت گرفته و انتظار میرود که کابینه کشور پاکستان به زودی در این باره تصمیم گیری نماید. دو طرف بر ایجاد دیسک( مرکز) مشترک هماهنگی میان سفارت و کمیشنری به توافق رسیده و بر ادامه همکاری های نزدیک و موثر تاکید نمودند.

## په ننګرهار ولایت کې لسګونو کورنیو نغدي مرستې او د کار وسایل ترلاسه کړل

په ننګرهار ولایت کې د ګاونډیو هېوادونو څخه په جبري توګه راستنو شویو او اړمنو ۸۴ کورنیو ته د نغدي مرستې او د کار وسایل ووېشل شول. یادې کورنۍ، چې مخکې د اچین او سپین غر په ولسوالیو کې پېژندل شوې وې د همکارو بنسټونو له لوري هرې کورنۍ ۱۰۰ امریکایي ډالره او ۱۸ قلمه د خیاطۍ اړوند د کار وسایل ورکړل شول.



## نشست کمیته ولایتی توزیع زمین در ولایت لغمان برگزار شد

نشست کمیته ولایتی توزیع زمین به مهاجرین و شناسایی خانواده‌های بی‌سرپناه و فقیر در ولایت لغمان بر ریاست معاون والی آن ولایت و با حضور نماینده های ادارات ذیربط حکومتی برگزار شد. درنشست یاد شده، در مورد تشکیل کمیته ولایتی اسکان خانواده های بی سرپناه و فقیر و توزیع زمین، بر اساس مصوبه کمیسیون عالی رسیدگی به مشکلات مهاجرین، و چگونگی انجام بهتر مسئولیت های محوله، بحث و تبادل نظر شد. پس از ابراز نظرات، تصامیم اتخاذ شد فورم های معیاری تهیه و اطلاعات لازم را جمع آوری و پس از تأیید توسط مسئولان مربوطه، در اختیار کمیته قرار گیرد .

## په بامیان ولایت کې لسګونو ښځو سره مرسته وشوه




په بامیانو ولایت کې ۴۰ هغو کډوالو او بېوزلو ښځو ته، چې په کوچنیو تجارتونو کې یې فعالیت درلود نغدي مرستې پرې ووېشل شوې. یادې شوې میرمنې، چې اړمنې پېژندل شوې وې د همکارو بنسټونو له لوري هرې کورنۍ ته ۳۴ زره او ٦٧٠ افغانۍ نغدي مرستې د دوی د مسلک د ملاتړ او د کورنۍ اقتصاد د پیاوړتیا په موخه ورته ووېشل شوې.

## کار حفر یک حلقه چاه آب آشامیدنی در کمپ اسکان موقت ولایت لغمان آغاز شد

با تلاش و همکاری ریاست امور مهاجرین و با حمایت مالی موسسه DACAR کار ساخت یک حلقه چاه آب آشامیدنی در کمپ اسکان موقت خانواده‌های عودت‌کننده در قریه سرخکان ولسوالی قرغه یی ولایت لغمان، آغاز شد. چاه یاد شده در حدود ۴۰ متر حفر با هزینه مبلغ ۳۰۰ هزار افغانی در مدت ۲۰ روز تکمیل خواهد شد. شایان ذکر است که چاه مذکور دارای سیستم برق خورشیدی خواهد بود که مشکل آب آشامیدنی سالم را در این محله فقیرنشین حل خواهد کرد.



## په سر پل ولایت کې له ۱۳۲۷ کورنیو سره مرسته وشوه

په سرپل ولایت کې د ګاونډیو هیوادونو څخه راستنو شویو ۱۳۲۷ کورنیو ته د خوراکي توکو او نقدی مرستې ووېشل شوې. یادې کورنۍ، چې پخوا د کډوالو امریت له لوري په دغه ولایت کې اړمنې پېژندل شوې وې د طبیعي پېښو سره د مبارزې اداري له لوري هرې کورنۍ ته ۲ قلمه خوراکي توکي ورکړل شوه.



## ۱۳۳ تن مهاجر پس از رهایی از زندان برگشت نمودند

۱۳۳ تن از افغان های مهاجر محبوس درکشور پاکستان طی یک هفته از تاریخ ۱۴۰۴/۴/۷ الی ۱۲ /۱۴۰۴/۴ از حبس آزاد و به کشور برگشت نمودند. به اساس معلومات آمریت انتقالات مهاجرین سپین بولدک ولایت قندهار افراد یاد شده با وجود داشتن اسناد در بخش های مختلف کشور پاکستان بازداشت شده بودند و مدت۱ الی ۴ روز دربند بودند. افراد مذکور بعد از ثبت و دریافت مساعدت های بشری به محلات اصلی شان انتقال شدند.